# غزوهٔ بدر

## او د زدکړې خبرې

**14 March-2025**

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے
د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 14 مارچ، کال 2025ء (بمطابق 13 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# غزوۀ بدر او د زدکړې خبرې

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د دُعا فضائل
- ...اِطاعت د کامیابۍ وړومبے شرط دے
- ... د شیطان 10 دروازې او د دې نه د بچ کیدو طریقه
- ... د تَعوُّذ لوستلو برکت

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اربعین عطّار، قسط: 2، صفحه: 36، حدیثِ پاک نمبر: 36 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ فِیْ کُلِّ یَوْمٍ مِّائَةَ مَرَّةٍ قَضَی اللّٰهُ لَهٗ مِائَةَ حَاجَةٍ اَیْسَرُهَا عِتْقُهٗ مِنَ النَّارِ

**ترجمه:** کوم کَس چې پۀ ما بانديې روزانه 100 کرته درودِ پاک ولولي، **اللّٰه** پاک به د هغۀ 100 ضرورتونه پوره کړي، پۀ کومو کښې چې د ټولو نه اسان د هغۀ د دوزخ د وور نه ازادي ده. (1)

دو لب، دو زلف، دو چشم سیاہ، دو رخسار ہر ایک عضو پہ دو، دو پہر درود پڑھو
بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحْسِن پر سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1 …افضل الصلوات للنبهانی، صفحه:21۔
2 …نورِ ایمان، صفحه:57۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے. (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښېنم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، ېچپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د 17 **رَمَضَانُ الْمُبَارَك شریف** ورځ کومه چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! راتلونکې ده، دا د اِسلامي تاریخ ډیره اهمه ورځ ده ❀ پۀ دې ورځ د مسلمانانو د خوږې مور جانې، حبیبۀِ حبیبِ خُدا ، صِدِّیقه بنتِ صِدِّیق حضرت عائشه صِدِّیقه، طیبه طاهِره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د وصال ورځ ده(2) ❀ پۀ دې ورځ باندې پۀ اِسلامي تاریخ کښې د حق او د باطِل ورومبی معرکه یعنې غزوۀ بدر وشوه،(3) د حیرانتیا خبره دا ده چې پۀ دې غزوۀ کښې د مسلمانانو شمیره صرف 313 وه او د غیر مسلمو شمیره یو زر [1000] وه، د هغوئي سره ساز و سامان او وَسله هم ډیره وه، بل خوا د مسلمانانو شمیره کمه هم وه او د هغوئي سره غشي او تورې وغیره هم لږې وې، د دې باوجود **اللّٰه** پاک پۀ دې غزوۀ کښې مسلمانانو ته عظیمُ الشانه فتح عطا کړله او غیر مسلمو ډیر عبرتناک شکست وخوړو. ❀ د دې نه پس پۀ 19 **رَمَضَانُ الْمُبَارَك شریف** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږې شهزادګۍ صاحبې حضرت رُقیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د وصال ورځ هم ده.(4)

---

[1]… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

[2]… شرح الزرقانی علی المواہب، المقصد الثانی، الفصل الثالث، عائشه ام المؤمنین، جلد:4، صفحه:392۔

[3]… بذل القوة، القسم الثانی…الخ، الباب الاول…الخ، الفصل الاول…الخ، صفحه:309۔

[4]… بذل القوة، القسم الثانی…الخ، الباب الثالث…الخ، الفصل الثانی…الخ، صفحه:430۔

مونږ له پکار دي چې پهٔ دې ورځ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدِّيقه او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزادګۍ حضرت رقيه رَضِيَ اللهُ عَنْهايا د تازه کړو، د دې دواړو بزرګانو هستيانو او کوم صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمچې په غزوهٔ بدر کښې شهيدان شول د هغوئي ټولو د پاره د ايصالِ ثواب انتظام وکړو، بهترين انداز دا دے چې پهٔ 17 او 19 رَمَضَانُ الْمُبَارَك شريف پهٔ روژه ماتي کښې د عام معمول نه د څهٔ زيات انتظام وکړو، ټول کور والا پهٔ يو ځائے کښينو، ټول يو يو ځل سورهٔ فاتحه ولولو، درې درې کرته سُورهٔ اِخلاص ولولو، که وغواړئ نو د دې نه زيات تلاوت هم کولے شئ بلکې که کيدے شي نو ټول کم از کم يو يو تسبيح درودِ پاک هم ولولئ، څهٔ ذِکر و اَذکار وکړئ، د مکتبة المدينه کتابونه دي: **فيضانِ عائِشه صِدِّيقه** رَضِيَ اللهُ عَنْها او **آقا** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **کے شهزادے اور شهزادياں**. دا دواړه کتابونه د مکتبة المدينه نه واخلئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ، دا ولولئ، کور والا راجمع کړئ او د دې نه ورته څهٔ ولولئ او د دې ټول اهتمام، د ټولو نيکو اعمالو ثواب حضرت عائشه صِدِّيقه او حضرت بي بي رُقَيَّه رَضِيَ اللهُ عَنْهما او د بدر شهيدانو ته اوبخښئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير ثوابونه به مو نصيب شي. **الله** پاک دې مونږ ته پهٔ دې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## غزوهٔ بدر او د زدکړې خبرې

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ 17 **رَمَضَانُ الْمُبَارَك شريف** کيدونکي عظيم الشانه معرکه يعنې عزوهٔ بدر هسې خو د تاريخ يوه واقعه ده، البته! پهٔ دې کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډير سبقونه موجود دي، نن به مونږه پهٔ هغې کښې د يو څو د اوريدو سعادت حاصلوو. راځئ چې ورومبے يو اِيمان تازه کوونکے روايت واورو:

## پۀ کوم ځیز باندې د خُدائے د حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظر نشته...؟؟

مُسلِم شریف کوم چې د حدیثِ پاک ډیر مشهور کتاب دے، پۀ دې کښې روایت دے، د دې حدیثِ پاک روایت کوونکے مشهور صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے، فرمائي: یو ځل زۀ د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره ووم، هغوئي د غزوۀ بدر پۀ باره کښې خبرې شروع کړې، پۀ هغې کښې هغوئي وفرمائیل: (د غزوۀ بدر شپه یعنې هٰغه شپه وه د کومې پۀ سبا چې غزوۀ بدر شوے وو، پۀ هٰغه شپه) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بدر میدان ته تشریف یوړلو او (نخښې یې وکړې او) اوئې فرمائیل: هٰذَا مَصۡرَعُ فُلَانٍ غَدًا اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ یعنې اِنۡ شَآءَ اللّٰه! سبا به فلانکے دلته راغورځیږي (مثلاً پۀ دې ځائے کښې به ابو جهل راغورځیږي، دلته به عُتبه راغورځیږي، دلته به شیبه راغورځیږي)

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: فَوَالَّذِیۡ بَعَثَهٗ بِالۡحَقِّ مَا اَخۡطَئُوۡا الۡحُدُوۡدَ الَّتِیۡ حَدَّ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یعنې د هٰغه ذات په قَسَم چا چې خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حق سره رالیږلے دے: کوم کوم ځائے چې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښودلے وو، یو غیر مسلمه هم د هٰغه ځائے نه د ذرې برابر هم اخوا دیخوا اونه غورځیدو.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! دا دے زمونږه د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِلمِ غَیب...!! جنګ لا شروع شوے هم نۀ وو، پۀ بَله ورځ کیدلو، هُم د هغې نه مخکښې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حالات او نتیجې بیانوي. لکه چې ټوله نقشه د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وړاندې وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر څۀویني او بیانوي یې: دا هٰغه ځائے دے چرته چې به ابو جهل راغورځیږي، دا هٰغه ځائے دے چرته چې به عُتبه

---

[1]... مسلم، کتاب الجنة...الخ، باب عرض مقعد المیت...الخ، صفحه:1100، حدیث:2873۔

راغورځیږي، دا ځغه ځائے دے چرته چې به شَیبَه راغورځیږي. د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: پهٔ دې حدیث شریف کښې درې غیبي خبرونه دي: (1): د مرګ د وخت خبر چې فلانکے کَس به سبا دلته مړ کیږي (2): د مرګ د ځائے خبر چې پهٔ فلانکي ځائے کښې به مړ کیږي (3): دریم د مرګ د نوعیت خبر چې غیر مسلمه به مړ کیږي.[1]

عالَم میں کیا ہے جس کی کہ تجھ کو خبر نہیں | ذَرَّہ ہے کون سا تری جس پر نظر نہیں
اَرض و سما نہیں ہیں کہ شمس و قمر نہیں | کس چیز پر حبیبِ خُدا کا اَثَر نہیں
یہ عِلمِ غیب ہے کہ رسولِ کریم نے | خبریں وہ دِیں کہ جن کی کسی کو خبر نہیں

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آقا کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دعاګانې

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** چې کله صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم د بدر میدان ته ورسیدل، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم هلته یو سَپَر یعني د سورې والا ځائے جوړ کړو، چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پکښې تشریف فرما وي.[2] پهٔ روایتونو کښې دي: خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سَپَر کښې تشریف فرما وو، نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تر ناوخته پورې دعاګانې کولې، رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره پهٔ سلګو سلګو دعا وفرمائیله چې څادر مبارک یې د اوګو نه راوخوئیدلو،[3] حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ عرض وکړو: حَسۡبُكَ يَا رَسُوۡلَ الله! یعني یا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!

---

1 ...مراٰۃ المناجیح، جلد:8، صفحہ:171 بتصرف۔

2 ...سیرۃ ابن ہشام، جز:2، جلد:1، صفحہ:211۔

3 ...مصنف ابن ابی شیبہ، کتاب المغازی، باب غزوۃ بدر الکبریٰ و متی...الخ، جلد:8، صفحہ:474، حدیث:32۔

دومره دعاګانې کافي دي.[1] پۀ روايتونو کښې دا هُم راغلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دغه شپه د بدر په ميدان کښې **الله** پاک نه پۀ دعاګانو غوښتلو تيره کړله.[2]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** څومره ښکلے شان دے زمونږه د محبوب آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم...!! د عِلمِ پاک دا حالت دے چې يوه ورځ مخکښې يې د جنګ ټوله نقشه تياره کړله، نتيجه يې هم وښودله! دا يې هم وفرمائيل چې ابو جهل به چرته مړ کيږي، عُتبه شَيبه به چرته زَخمي کيږي او چرته به راغورځيږي. بل خوا د **الله** پاک نه د اُميد دا حالت دے چې ښه پۀ سلګو سلګو دعاګانې کوي.

## د دُعا کولو عادت جوړ کړئ!

افسوس چې نن سبا دلته د دعاګانو کولو سوچ ورځ په ورځ کميږي. دا ډيره غټه مسئله ده، خلق دعاګانې نۀ کوي او که څوک يې کوي هم نو ډيرې کومې يې کوي. ډير داسې خلق دي کوم چې جومات ته راځي، نـمونځ کوي، په هغوئي کښې بعضې دعا هم نۀ کوي او څوک يې چې کوي نو د هغوئي حالت داسې وي چې اول خو ورته د دُعا کولو د پاره د لاس پورته کولو انداز هم معلوم نۀ وي، بس دواړه لاسونه موټې کړي او اخوا ديخوا ګوري او يو څو رَټه کړے شوې جملې پۀ ژبه باندې ادا کړي. دا احساس ورسره هم نۀ وي چې مونږ يې د چا نه غواړو او دا ورته هم معلومه نۀ وي چې مونږه څۀ غواړو. **ياد ساتئ چې دُعا بخپله يو عِبادت دے.**[3] **بلکې د عبادت مغز دے.**[4] دا هم باقاعده يو کار دے. مونږ له پکار دي چې د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې ښې ډيرې دعاګانې کوو، پۀ ژړا

---

[1]...بخاری، کتاب الجهاد و السير، باب ما قيل فی درع...الخ، صفحه:752، حديث:2915۔

[2]...مصنف ابن ابی شيبه، کتاب المغازی، باب غزوة بدر الکبریٰ و متی...الخ، جلد:8، صفحه:472، حديث:27۔

[3]...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحه:777، حديث:3372۔

[4]...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحه:777، حديث:3371۔

ژړا يې کوو، د **اللّٰه** پاک پۀ حُضُور کښې لاس پورته کوو او ژاړو، څۀ چې غوښتل وي، د خپل رَبِّ کريم نه يې غواړو، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! نا مُراده به نۀ پاتې کيږو.

نن سبا خلقو ته د سوال دپاره لاس نيولورواج هُم ورځ پۀ ورځ زياتيږي، برناحقه سوال کوي، شريعت هغوئي ته د غوښتو اجازت نۀ ورکوي خو هغوئي يې کوي، دا هم عام پۀ نظر راځي چې نن سبا ښه متېه ور ځوانان کوم چې ګټه وټه کولے شي، کار روزګار او د خپلو بچو د پاره ګټه کولے شي خو بس د مفت خوړلو عادت شوي وي، جومات ته به راشي، سجده به وکړي د **اللّٰه** پاک پۀ حُضُور کښې... چې ځنګه سلام وګرځوي، نو اوبه دريږي او پۀهو پهو به کوي او ژړا به شروع کړي او د خلقو نه به غوښتل شروع کړي. د **اللّٰه** پاک بندګانو...!! چې چا ته مو سجده وکړه، تندے مو پۀ زمکه باندې کيښودلو او سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی مو ووئيل، معلومه درته ده چې د دې مطلب څۀ دے؟ پاک دے، زما پاللو والا لوئي او بالا رَبّ. هُغه کوم ته چې مونږه پاک وايو، لوئي او بالا يې منو، هغه پاللو والا ګڼو او تندے ورته پۀ زمکه باندې ږدو، نو هم د هغۀ نه يې وغواړئ...!! د هغۀ په حضور کښې سوال وکړئ!

## زما نه دُعا وغواړئ...!!

**اللّٰه** پاک فرمائي:

اُدْعُوْنِیْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ
(پاره:24، سورۀ مؤمن:60)

ترجمۀ کنزُ العِرفان:: زما نه دُعا وغواړئ زۀ به ستاسو دُعا قبلووم.

سُبْحٰنَ اللّٰه! خومره زبردست زيرے دے، **اللّٰه** پاک فرمائي: اے زما بندګانو...!! زما نه دُعا غواړئ...!! زۀ به يې قبلووم. اوس که د دې فرمانِ عالي شان نه پس هم مونږه خلقو ته برناحقه لاس نيسو نو ووايئ چې مونږه د بندګۍ خيال کله وساتلو...؟ ځکه پکار دي

چې د **الله** پاک نه سوال وکړو.

## د بندګانو نه د غوښتلو نقصانونه

یوه ډېره د عبرت والا واقعه ده، حضرت بهلول دانا رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه څوک چې مَجذُوب (یعني د **الله** پاک په عشق کښې مست او ورک) وو، یو ځل خلیفه هارون الرشید ته هغوئي ووئیل: زۀ غواړم چې ستاسو د پاره د ورځې څۀ خرچه مقرر کړم چې تاسو بے فِکره يئ او د **الله** پاک په عبادت کښې مشغول يئ. حضرت بهلول دانا رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه وفرمائیل: ما به دا منظور کړي وو خو په دې کښې یو څو عیبونه دي: **(1):** وړومبے عیب خو دا چې تاسو ته معلومه نۀ ده چې زۀ څۀ غواړم **(2):** دویم عیب دا چې تاسو ته معلومه نۀ ده چې ما ته کوم وخت کښې پکار دي **(3):** زما څومره پکار دي، تاسو ته د دې عِلم هم نشته. **الله** پاک د دې هر څۀ نه خبر دے او هغۀ په خپل کامِل حکمت سره ما ته رزق رارسوي. بیا یوه بَله مسئله هم ده، کیدے شي چې تاسو زما نه خفه شئ، بیا به تاسو زما خرچه بنده کړئ خو زما رَبِّ کریم داسې کرم کوونکے دے چې که لکونه ګناهونه وي نو بیا مې هم رزق نۀ منع کوي، ځکه زۀ ستا خرچه نۀ قبلووم. زۀ خو به يې بس هم د **الله** پاک نه غواړم.(1)

سُبۡحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** واقعي خبره رښتیا ده، بندګان کوم چې پخپله محتاجه دي، د هغوئي نه به څۀ وغواړې...؟ د **الله** پاک نه وغواړئ چې هم هغۀ عطا کوونکے دے. ځکه مونږ ته د دعاګانو کولو عادت جوړول پکار دي. اوس خو هسې هم د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك **شریف** مبارکه میاشت جاري ده، د دعاګانو د قبلیدو میاشت ده ❁ د پیشمنې په وخت دعاګانې کوئ! ❁ د روژه ماتې په وخت دعاګانې کوئ! ❁ د تراویح نه

---

[1]...سبع سنابل، صفحه:211۔

پس دعاګانې کوئ ❁ تهجد کوئ او دعاګانې کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! جولۍ به مو ډکه شي.
راځئ چې د ترغيب د پاره تاسو ته د دُعا کولو په فضائلو يو څو حديثونه بيان کړم:

## د دُعا کولو فضائل

❁ په حديثِ قُدسي کښې دي: **الله** پاک فرمائي: اَنَا مَعَهُ اِذَا دَعَانِیْ يعنې بنده چې کله زما نه دُعا غواړي نو زۀ د هغۀ سره يم. [(1)]

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديث په شرح کښې فرمائي: د دې نه د خاص کرم او رحمت په ذريعه ورسره کيدل مُراد دي، د **الله** پاک دا خصوصي رحمت د دُعا کوونکي نصيب کيږي. [(2)]

❁ په حديث شريف کښې دي: د دُعا نه مۀ عاجزه کيږئ ولې چې وکوم ګَس د دُعا سره وي هغه به نۀ هلاکيږي [(3)] ❁ په يو حديث شريف کښې يې فرمائيلي دي: دُعا د مسلمان وسله، د دِين ستَن او د اسمان نُور دے [(4)] ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: آيا زۀ تاسو ته هُغه څيز بيان نکړم کوم چې تاسو ته د دښمن نه نجات درکړي او ستاسو رزق فراخه کړي، شپه ورځ د **الله** پاک نه دعا غواړئ ولې چې دُعا د مؤمِن وسله ده. [(5)]

**الله** پاک دې مونږ ته په کثرت سره د دعاګانو کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

[1]... مسلم، کتاب الذکر...الخ، باب فضل الذکر...الخ، صفحه:1036، حديث:2675۔
[2]... فضائلِ دُعا، صفحه:49 بتصرف۔
[3]... مستدرک، کتاب الدعا...الخ، جلد:2، صفحه:164، حديث:1861۔
[4]... مستدرک، کتاب الدعا...الخ، جلد:2، صفحه:162، حديث:1855۔
[5]... مسند ابي يعلی، جلد:2، صفحه:123، حديث:1812۔

## د غزوۀ بدر دوه اهم سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په قرآنِ کريم کښې په ډېرو ځايونو کښې د غزوۀ بدر ذِکر راغلے دے، په سورۀ اَنفَال کښې د دې تفصيلي بيان موجود دے، په دې ځائے کښې د عزوۀ بدر د ذِکر کولو نه پس الله پاک مونږ ته څۀ حکمونه راکړي دي. په هغې کښې صرف دوه حکمونه زۀ عرض کووم، داسې وګڼئ چې ❀ په غزوۀ بدر کښې ظاهري اسباب د غير مسلمو سره زيات وو ❀ شميره هم د هغوئي زياته وه ❀ وسله هم د هغوئي سره زياته وه ❀ د خوراک څښاک سامان هم د هغوئي سره زيات وو، د دې باوجود هم غير مسلمو ته شکست وشو او د مسلمانانو عظيم الشانه فتح نصيب شوه، د دې څۀ وجه وه...؟ په دې ځائے کښې د هغې پټ اسباب بيان کړے شوي دي او مونږ ته حکم شوے دے چې اے مسلمانانو...!! د دې احکامو پابند شئ! لکه څنګه چې د بدر په ميدان کښې 313 ته په يو زرو [1000] باندې فتح عطا کړے شوې وه، داسې به تاسو ته هم د دُنيا او د اخرت په هر ميدان کښې کاميابي عطا کولے شي. دا دوه احکام څۀ دي؟ واورئ!

### (1): د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري

وړومبے حکم دا چې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ<br>(پاره:10، سورۀ انفال:46) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د الله او د هغۀ د رسول تابعداري کوئ. |

يعني اے مسلمانانو...!! هر وخت، په هر حال او هر ميدان کښې د الله او د رسول تابعدار اوسئ...!! د الله پاک او د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُکم منونکي او په دې عمل کوونکي جوړ شئ نو د دې نتيجه به څۀ وي؟ لکه څنګه چې بدر والؤ ته فتح عطا کړے شوې وه نو تاسو ته به هم په هر ميدان کښې کاميابي عطا کولے شي.

معلومه شوه چې د مسلمان بنده د کامیابۍ د پاره د ټولو نه بنیادي څیز اِطاعت دے، څوک چې د الله او رسول فرمانبرداره اوسي نو هغۀ ته به پۀ هر میدان کښې کامیابي عطا کولے شي، څوک چې د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرمانه وي، هغۀ پۀ دُنیا کښې هم د رسوایۍ سره مخ کیږي او پۀ اخرت کښې هم پۀ نقصان کښې وي.

## اِطَاعت د کامیابۍ وړومبے شرط دے

د نورو قومونو انداز که هر څنګه هم وي، البته د یو مؤمِن بنده د پاره پۀ هره سطح باندې د کامیابۍ د پاره د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اطاعت وړومبے شرط دے. د چا چې یقین نۀ وي، هغۀ دې تاریخ راواخلي او وه دې ګوري، مسلمانانو چې کله هم د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ احکامو باندې عمل کړے دے نو کامیابي د دوئي نصیب شوې ده او چې کله هم مسلمانانو د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرماني کړې ده نو دوئي د ذِلت او د رسوایۍ سره مخ شوي دي.

غزوۀ بدر ته وګورئ! د 313 مسلمانانو د عظیم الشاني فتحې پۀ اسبابو کښې یو بنیادي سبب اطاعت او فرمانبرداري ده. د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم د ځان سره کړل او د مدینے منورې نه روان شو، هُغه وخت د جنګ پۀ اراده باندې روانیدل نۀ وو، مقصد څۀ بل څۀ وو، پۀ لاره کښې ورته معلومه شوه چې کافران لښکر راولي او د بدر پۀ میدان کښې یې راجمع کوي، پۀ دې باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم سره مشوره وکړه چې اوس څۀ کول پکار دي نو د مسلمانانو وړومبي خلیفه حضرت ابو بکر صِدِّیق او د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُما او نورو مهاجرو صحابه کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! (هُم ستاسو د پاره مو مکه

پریښودله، خپل کور کلے مو قربان کړو) اوس به ځانونه هم قربانوو. بیا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د انصارو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم طرف ته مخ کړو، حضرت سعد بن عُبَاده رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ودریدلو او عرض یې وکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! کیدے شي چې تاسو زمونږ نه رائے اخلئ. اے د الله پاک اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د بدر میدان خو دا شو که تاسو وفرمایئ نو مونږه سمندر ته هم د کوزیدو د پاره تیار یُو. بَل صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ودریدلو او عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه د بني اسرائیلو په شان نهٔ یُو چې هغوئي حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام ته وئیلي وو:

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَاۤ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ (پاره:6، سورۀ مائدہ:24)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ او ستا رب دواړه لاړ شئ او وجنګیږئ، مونږ خو هُم دلته ناست یُو.

یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! مونږه به په تاسو باندې خپل ځانونه قربان کړو.[(1)]

دا د اِطاعت جذبه کومه چې په صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم کښې وه، په اصل کښې هم دغه جذبه وه کومې چې 313 د بدر میدان ته بوتلي هم وو او فتح یې هم ورکړې وه. یو شاعر ډیره ښکلې خبره کړې ده چې د بدر په میدان کښې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم سره توري هم پوره نهٔ وې، د جنګ سامان هم کم وو، افرادي قوت هم کم وو، د دې باوجود هغوئي د بدر میدان ته ولې لاړل؟ په کومه بروسه باندې میدان ته کوز شول. نو شاعر وائي:

تھے ان کے پاس دو گھوڑے ، چھ زرہیں ، آٹھ شمشیریں
پلٹنے آئے تھے یہ لوگ دُنیا بھر کی تقدیریں
نہ تیغ وتیر پر تکیہ، نہ خنجر پر نہ بھالے پر
بھروسا تھا تو اِک سادی سی پیاری چادر والے پر

[1]… تفسیر کبیر، پارہ:9، سورۀ انفال، زیرِ آیت:65، جلد:5، صفحہ:457456ملخصاً۔

دا دے د کاميابۍ اصلي بنياد...!! د دې نه بغير د يو مسلمان کاميابي ممکنه هم نۀ ده. ځکه مونږ له پکار دي چې هميشه د الله او د رسول فرمانبرداري کوو. پۀ دې کښې فرق نشته چې مونږه څۀ يُو؟ ❁ څوک چې ډاکټر دے، هغۀ پۀ ډاکټرۍ کښې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احکامو پابند دے ❁ څوک چې سائنسدان دے هغۀ هم د شريعت د حکم پابند دے ❁ که څوک مزدور دے او که بادشاه ❁ مالداره دے او که غريب ❁ که پۀ کور کښې دے او که بهر ❁ که پۀ بازار کښې دے او که پۀ جومات کښې ❁ غرض که هر وخت وي، هر سعت وي، هر حالت وي، مونږه پۀ هر وخت، هر حالت کښې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احکامو پابند يُو. بس تر څو پورې چې دا اطاعت مونږه کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! کاميابي به زمونږه نصيب کيږي، چې څنګه مو د دې فرمانبردارۍ نه مخ واړولو نو د تنزلۍ سفر به مو شروع شي.

## د وليد بن يزيد ګستاخي او انجام

د خِلافت بنو اُمَيَّه يو بادشاه تير شوے دے: **وليد بِن يزيد**. ډير سرکشه او بے باکه وو. پۀ **حديثِ پاک** کښې ارشاد وشو: زما پۀ اُمَّت کښې به وليد نومې يو ګس وي کوم چې به د فرعون نه هم زيات سرکشه وي. علمائے کرامو د دې **حديثِ پاک** نه هم دا **وليد بن يزيد مُراد** اخستے دے. يو ځل وليد بن يزيد د قرآنِ کريم نه فال راويستلو. د قرآنِ کريم نه فال راويستل هسې خو ناجائزه دي. قرآنِ مجيد د فال راويستو د پاره نۀ بلکې د هدايت د پاره نازل شوے دے خو وليد بد بخته خو هسې هم سرکشه وو، د هغۀ پۀ جائز او ناجائزه باندې څۀ پروا وه! هغۀ چې فال راويستو نو کوم آيت مبارک چې د هغۀ مخې ته راغلو هغه لکه چې هُم د هغۀ د ژوند پوره پوره نقشه وه، نو پۀ فال کښې چې کوم آيت راووتلو هغه د ديارلسمي سيپارې، د سورۀ ابراهيم آيت نمبر: 15 وو، ارشاد دے:

خَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾

ترجمۀ كنزُ العِرفان: او هر سرکشه او نارامه نا مُراده شو.

وليد چې کله دا آيت ولوستلو نو په هغۀ باندې د اِقتدار پيريان راغلل او په غرور او تکبر کښې بے مهاره شو او مَعَاذَ الله! قرآنِ کريم يې شهيد کړو او په بے ادبئ يې وويشتلو او اوئې وئيل: آيا تۀ سرکشه او نارامه ته زيري اوروې؟ آؤ! زۀ سرکشه او نارامه يم، چې کله تۀ د قيامت په ورځ باندې د **الله** پاک مخې ته لاړ شې نو ورته ووايه چې وليد زما سره داسې سلوک کړے دے.

د تاريخ په صفحاتو باندې موجود دي چې د دې واقعې نه يو څو ورځې پس د وليد بن يزيد سر کټ کړے شو او هم د هغۀ په محل باندې رازوړند کړے شو، د هغۀ د ترۀ زوي د هغۀ خلاف بغاوت وکړو او اعلان يې وکړو چې څوک د وليد سر کټ کړي راېې اوړي هغۀ ته به يو لاکھ درهم (يعنې د سپينو زرو سکې) انعام ورکولے شي، نو د هغۀ سر کټ کړے شو او د هغۀ د ترۀ د زوي مخې ته وړاندې کړے شو، هغۀ څو يو څو ورځې د هغۀ سَر هم د هغۀ په محل کښې زوړند وساتلو او بيا يې په چوک کښې زوړند کړو. (1)

ملے خاک میں اَہلِ شاں کیسے کیسے | مکیں ہو گئے لامکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بےنشاں کیسے کیسے | زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے، تماشا نہیں ہے

اَللهُ اَكْبَر! **خوېندو او محترمو اِسلامي ورونو!** څومره د عبرت خبره ده، د وخت بادشاه دے، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبردارئ نه بهر شو، د نافرمانئ لاره يې اختيار کړه نو قهر پرې نازل شو. معلومه شوه چې د نافرمانئ سفر د الله او د رسول د نافرنئ نه شروع کيږي. ځکه مونږ له پکار دي چې هر وخت د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردار اوسو.

---

[1]... حَيَاةُ الحيوان، جلد:1، صفحه:108 ملتقطًا۔

## مِزاج یا شریعت

افسوس چې دلته دا یو دستور جوړیدو والا دے،چې خلق د شریعت نه زیات خپل مزاج ته ګوري. چې څۀ یې پۀ زړۀ کښې راځي هم هغه کوي، الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ فرمائیلي دي؟ شریعت پۀ دې باره کښې څۀ وائي، دا سوچ ډیر کم کولے شي ❁ پۀ زړۀ کښې مور راغلل چې کاروبار کول دي، چې څۀ کوو نو هغه حلال دے که حرام؟ جائز دے که ناجائزه، د دې پروا نۀ کیږي ❁ د واده ښادۍ وغیره د خوشحالۍ موقع وي، څۀ چې مو پۀ زړۀ کښې راځي نو د هغې اهتمام کولے شي، سندرې سازونه حرام دي، د دې پروا نۀ کیږي، د ډول سُورنا شرعاً اجازت نشته، د دې پروا نۀ کیږي، بس چې مونږه غواړو چې د خوشحالۍ پۀ وخت سندرې سازونه وي، ځکه یې خلق کوي ❁ خلق کپړې اخلي، ګنډې یې، خوراک څښاک کوي، پۀ زرګونو قِسمه معاملې کوي، پۀ دې کښې بس خپل مزاج ته ګوري، زما چوائس څۀ دے؟ زما څۀ خوښ دي؟ دې ته کتلے شي، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا پۀ څۀ کښې ده؟ د ګنبدِ خضرئ والا محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت څۀ دي، د دې خبرو هم ډیر کم خلق خیال ساتي، بس د خپلو مزاجونو مطابق کار کوي. کاش چې زمونږه عادت جوړ شي چې مونږ پۀ هر حال کښې شریعت خپل پیشوا جوړولو والا جوړ شو.

## فرمانبرداره د جنَّت حقداران دي

د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: زما ټول اُمَّت به جنَّت ته داخلیږي خو هغه کس چا چې انکار وکړو. عرض وکړے شو: هغه انکار کوونکے څوک دے؟ اوئې فرمائیل: چا چې زما اطاعت وکړو، هغۀ جنَّت ته داخل شو او چا چې زما نافرماني وکړه، هغۀ

انکار کوونکے دے. (1)

**اللہ** پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي، کاش چې مونږه پهٔ خپله هره معامله کښې د شریعت پابندئ کولو والا جوړ شو. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## (2): د شیطان د چلونو نه ځان بچ ساتئ...!!

د غزوهٔ بدر نه میلاؤیدونکے یو بَل سبق واورئ! **اللہ** پاک فرمائي:

**وَ اِذْ زَیَّنَ لَهُمُ الشَّیْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَ قَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْیَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَ اِنِّیْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَیْهِ** (پاره:10، سورهٔ انفال:48)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او (یاد کړه) چې کله شیطان د هغوئي پهٔ نظر کښې د هغوئي اعمال ښائسته ښکاره کړل او شیطان ورته ووئیل: نن د خلقو نه پهٔ تاسو هیڅ څوک غالِب راتلونکے نشته او بے شکه زهٔ ستاسو مددګار یم، بیا چې کله دواړه لښکرې مخامخ شوې نو شیطان پهٔ شا وتښتیدو.

پهٔ روایتونو کښې دي: چې کله د مکې غیر مسلمه د بدر میدان ته ورسیدل او د مسلمانانو سره یې د جنګ کولو پخه اراده وکړه نو هغوئي ته رایاد شو چې پهٔ لاره کښې بنو بکر نومې قبیله راځي، زمونږه د هغوئي سره دښمني ده، هسې نهٔ چې داسې وشي چې مونږه د بدر د پاره ووځو او بنو بکر قبیلې والا پهٔ مونږ باندې حمله وکړي، ممکنه وه چې هغه خلق پهٔ دې سوچ سره بدر ته د تللو نه منع شوے وے خو شیطان مردود ته دا هیڅکله هم منظوره نهٔ وه، نو هغهٔ څهٔ وکړل چې د بنو کِنانه قبیلې د سردار سُرَاقه پهٔ شکل کښې د هغوئي خوا له راغلو او اوئې وئیل: تاسو فِکر مهٔ کوئ! زهٔ ستاسو سره یم، ستاسو د حفاظت ذمه واري زهٔ اخلم. نن به پهٔ تاسو باندې څوک هم نهٔ غالب کیږي.

---

[1]... بخاری، کتاب الاعتصام بالکتاب و السنة، باب الاقتداء...الخ، صفحه:1762، حدیث:7280۔

نو د مکې غیر مسلمو پۀ هغۀ باندې باور وکړو او د بدر میدان ته روان شو. بیا څۀ وو چې شیطان مردود ولیدل چې **اللّٰه** پاک د مسلمانانو د مدد د پاره فرښتے راولیږلې نو بیا شیطان مردود شا کړه او وتښتیدو، خلقو هغۀ ته چغې وهلې: اے سُرَاقه! تا خو زمونږه ضمانت اخستے وو، اوس چرته ځې...؟ شیطان ووئیل: بے شکه زۀ ستاسو نه بیزاره یم، زۀ هُغه څۀ وینم کوم چې تاسو نۀ وینئ. (1)

اللّٰه! اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې نه معلومه شوه چې د مکې د غیر مسلمو سره د ساز او سامان کمے نۀ وو، د طاقت او د قوت ورسره کمے نۀ وو، د دې باوجود هغوئي ته شکست وشو، د دې یو سبب دا هم وو چې هغوئي د شیطان مردود پیروي وکړه، چې کله هغوئي پۀ شیطان پسې روان شو نو شیطان هغوئي وور ته وغورځول او پخپله ترینه وتښتیدو. **اللّٰه** پاک مونږ ته حکم کوي:

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِیْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ بَطَرًا وَّ رِئَآءَ النَّاسِ (پارہ:10، سورۂ اَنْفال:47)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او د هُغه خلقو پۀ شان مۀ کیږئ کوم چې د خپلو کورونو نه پۀ فخر ووتل او خلقو ته یــې ځان ښودو.

یعنې اے مسلمانانو...!! وګورئ چې د بدر واقعه ستاسو د پاره عبرت دے، د مکې غیر مسلمه...!! چې پۀ ظاهره باندې د هغوئي تَله درنه وه، د هغې باوجود هم هغوئي شکست وخوړو، هغوئي د کورونو نه پۀ تکبر سره وتلي وو، د خپل طاقت او شهرت پۀ نشه کښې وتلي وو، هغوئي پۀ شیطان پسې روان شو، ځکه هغوئي د ذلت سره مخ شول، اے مسلمانانو...!! تاسو هیڅکله هم د هغوئي پۀ شان مۀ کیږئ، ځان مۀ ښایئ، پۀ فخر او غرور کښې مۀ اخته کیږئ، پۀ شیطان پسې مۀ ځئ، ګنې نو تاسو به هم د ناکامۍ سره مخ شئ.

[1]... صراط الجنان، پارہ:10، سورۂ انفال، زیرِ آیت:48، جلد:4، صفحہ:2322۔

## شيطان زمونږه دښمن دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! شيطان زمونږه دښمن دے ❀ که خوشحالي وي او که غم ❀ که اختر وي او که روژه ❀ که هر څنګه وخت وي ❀ هر قِسمه ورځې وي ❀ مونږ ته دا بد بخته هُم خپل دښمن ګڼل پکار دي ❀ په يو وخت کښې هم د دۀ په چل وَل کښې نه دي راګيريدل پکار. اللّٰه پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اِنَّ الشَّیْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّاؕ
(پاره:22، سورهٔ فاطر:6)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شک شيطان ستاسو دُښمن دے نو تاسو هُم هغهٔ دُښمن وګڼئ.

يعني اے خلقو! د اللّٰه پاک په عبادت باندې قائِم اوسئ او د اللّٰه پاک په نافرمانئ کښې د شيطان پيروي مهٔ کوئ او د شيطان سره دښمني کوئ! دا هميشه خپل دښمن ګڼئ! (1)

خومره صفا فرمان دے. شيطان زمونږه دښمن دے او مونږ ته حکم کولے شي چې دا بد بخته لعين هميشه خپل دښمن ګڼئ ...!!

مونږ له پکار دي چې هغهٔ دښمن وګڼو. اوس ووايئ چې څوک دښمن وي، انسان د هغهٔ خبره مني، په هغهٔ پسې ځي، د هغهٔ طرف ته ځي؟ هيڅکله هم نهٔ. ځکه ❀ چې کله شيطان ووائي: نـمونځ مهٔ کوئ! مونږ به د هغهٔ خبره هيڅکله هم نهٔ منو ❀ چې شيطان کله وسوسه راواچوي نو مونږ له د هغهٔ خبره هيڅکله هم منل نهٔ دي پکار ❀ شيطان چې کله د غربت وسوسه راکړي نو چې د هغهٔ خبره هيڅکله هم ونهٔ منو، او ښهٔ د زړهٔ د اخلاصه سخاوت وکړو ❀ چې شيطان د نيکئ نه منع کړي نو مونږ له منع کيدل نهٔ دي پکار، نيک کارونه کول پکار دي. غرض چې څهٔ هم وي، مونږ له پکار دي چې هر وخت شيطان هم خپل دښمن ګڼو او د دې خبيث نه د بچ کيدو د پاره هر ممکن کوشش کوو.

---

1 ... مكاشفة القلوب، باب فى عداوة الشيطان، صفحه:69۔

# د شیطان 10 دروازې او د هغې نه د بچ کیدو طریقه

یو بزرګ رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: ما غور وکړو چې د شیطان دروازې کومې دي د کومو په ذریعه چې انسان دوکه کوي؟ نو ما ته د قرآن او د حدیث په رڼا کښې معلومه شوه چې د شیطان 10 دروازې دي او د دې نه د بچ کیدو هم 10 طریقې دي: (1): شیطان د لالچ په لاره په انسان باندې حمله کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان قناعت اختیار کړي (یعنې څۀ او چې په څومره مقدار کښې **الله** پاک عطا کړي دي، په هغې باندې خوشحاله اوسي) (2): شیطان په اوږدو اُمیدونو باندې انسان دوکه کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان مرګ هر وخت خپلې مخې ته ساتي (3): شیطان د راحت او ارام او د دُنیا په نعمتونو کښې د غرقیدو په لاره حمله کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان د نعمت د لاس نه د تللو او د هٰغه نعمتونو د حساب فِکر وکړي (4): شیطان د ځان خوښۍ (یعنې د ځان د غاوره کیدو) په لاره حمله کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان د **الله** پاک احسانونه یاد ساتي او د بد انجام نه ویریږي (5): د مسلمانانو ورونړو د سپک او کمتر ګڼلو په لاره باندې حمله کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان د خپلو مسلمانانو ورونړو عزت کوي (6): شیطان د حسد په ذریعه انسان دوکه کوي، د دې علاج دا دے چې انسان د **الله** پاک په تقسیم باندې راضي اوسي (او نورو ته ورکړے شوو نعمتونو ته د لالچ په نظر نۀ ګوري) (7): شیطان د ریا په لاره باندې حمله کوي، د دې عِلاج په اخلاص کښې دے چې بنده صرف او صرف د **الله** پاک د رضا غوښتو طلب ګار جوړ شي (8): شیطان د کنجوس توب په ذریعه دوکه کول کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان خپل د اخرت نعمتونه یاد ساتي او د دُنیا مال د رَبّ په لاره کښې خرچ کوي (9): شیطان د تکبر په لاره حمله کوي، د دې علاج دا دے چې انسان عاجزي او انکساري اختیار کړي (10): شیطان د لالچ (یعنې د خلقو سره موجودو

نعمتونو ته د لالچ پۀ نظر د کتلو) پۀ ذريعه دوکه کول کوي، د دې عِلاج دا دے چې بنده صرف د رَبِّ کريم عطاګانو ته نظر کوي او د خلقو سره د موجودو څيزونو نه مايوسه شي.[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا د شيطان يو څو دروازې دي، د کومو پۀ ذريعه چې شيطان مونږه دوکه کوي ✿ پۀ نـمونځونو کښې سستي د شيطان دروازه ده ✿ خپل ګناهونه هېرول هم د شيطان دروازه ده ✿ پۀ مَړهٔ خېټه خوراک هم د شيطان دروازه ده ✿ لالچ ✿ اوږدهٔ اميدونه ✿ ارام خوښول ✿ ځان خوښي ✿ خپل مسلمانان وروڼه سپک ګڼل ✿ حسد کول ✿ ريا کول او ✿ کنجوسي وغيره دا ټولې د شيطان دروازې دي، مونږ له پکار دي چې د دې ظاهري او باطني بيمارو نه هميشه ځان بچ ساتو چې د شيطان د حملو نه محفوظ پاتې شو.

## د شيطان نه د بچ کېدو يو څو نورې طريقې

د دې نه علاوه د شيطان نه د بچ کېدو يو څو نورې طريقې هم دي. **پۀ دې کښې يوه طريقه د ذِکرُ الله کثرت کول دي.** د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه نه مروي دي چې چا د **الله** پاک نه پوښتنه وکړه چې : ما ته د انسان پۀ زړهٔ کښې د شيطان ځائے راوښايه ، پۀ خوب کښې هغۀ د شيشې پۀ شان صفا سوترا د يو انسان بدن وليدلو کوم چې د دننه او بهر نه يو شان پۀ نظر راتللو، شيطان يـې وليدلو چې هغۀ د انسان د ښئ اوګې او د غوږ ترمينځه د چيندخ پۀ شان ناست وو او پۀ خپل اوږد خَرتم يـې د هغۀ زړهٔ ته وسوسې وراچولې. چې کله به هُغه انسان د **الله** پاک ذِکر کولو نو هغۀ به فوراً وروستو کېدلو.[2]

---

[1]…تنبيه الغافلين، باب عداوة الشيطان و معرفة مكايده، صفحه 345 ملخصاً۔

[2]…مکاشفة القلوب، باب عداوة الشيطان، صفحه:79۔

## تَعَوُّذ لوستل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د شیطان نه د بچ کیدو یوه بهترینه طریقه د تَعَوُّذ یعنې اَعُوْذُبِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم کثرت کول هم دي. یعنې مونږ چې پۀ ناسته پاسته، ګرځیدو پۀ کثرت سره اَعُوْذُبِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم لولو نو د دې پۀ برکت باندې به هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! مونږه د شیطان د چلونو نه بچ کیږو. پۀ حدیثِ پاک کښې دي: کوم بنده چې پۀ تږوله ورځ کښې 10 کرته اَعُوْذُبِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم لولي نو **الله** پاک د یوې فرښتے ډیوټي لګوي کومه چې به شیطان د هغۀ نه داسې لرې شړي لکه څنګه چې د عربو خلق اوښان د اوبو د تالاب نه شړي. [1]

## د تَعَوُّذ برکت

حضرت ابو سعید خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما پۀ یو ځائے کښې شیطان راتیټ شوے ولیدلو نو ما د هغۀ د امسا پۀ ذریعه د زخمي کولو اراده وکړه، شیطان ما ته ووئیل چې اے ابو سعیده! آیا تا ته معلومه نۀ ده چې زۀ د امسا او د دُنیا د وسلې نۀ هیڅ ویره نۀ لرم؟ ما ووئیل: اے لعنتي! تا کوم څیز ویروي؟ هغۀ جواب راکړو چې ما (پۀ دې دُنیا کښې صرف) دوه څیزونه ویروي: (1): د تَعَوُّذ لوستونکو تَعَوُّذ یعنې اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم لوستل (2): د صِدِّیقینو د معرفت شعاګانې. [2]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د اَعُوذُ بالله لوستلو سره شیطان ویریږي، **الله** پاک دې مونږ ته د دې بد بخته د ویرولو او د دۀ د چلونو نه د بچ کیدو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ...سلوة العارفین، باب فضیلة التعوذ، جلد:1، صفحه:124۔

[2] ...سلوة العارفین، باب فضیلة التعوذ، جلد:1، صفحه:124۔

## د اِجتماعي اِعتكاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شيطان د چالونو نه د ځان بچ كولو او د نيكو نه د ډک ژوند تيرولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط كړئ، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك شريف مباركه مياشت جاري ده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د انتظام تر لاندې په ټوله دُنيا كښې په زرګونو ځايونو كښې د آخرو لسو ورځو اجتماعي اعتكاف هم كيږي، تاسو هم پكښې شركت وكړئ!

د اعتكاف د ثواب اندازه د دې نه ولګوئ چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ظاهري ژوند مبارک تر آخره پورې د لسو ورځو د اعتكاف اهتمام فرمائيلے دے. چنانچه اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا فرمائي چې رسولِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې (يعني د آخرو لسو ورځو) **اِعتِكاف** كولو. تر دې چې **الله** تعالیٰ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته (ظاهِري) وَفات وركړو. بيا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس به د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَزواجِ مُطَهَّراتو **اِعتِكاف** كولو. (بُخاری ج1 ص664، حديث2026)

يو حديث شريف كښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "چا چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې د لسو ورځو اِعتِكاف اوكړو هغه داسې دے لكه دوه حجونه او دوه عُمرے ئې چې اوكړې." (شُعَبُ الْاِيمان ج3 ص425 حديث3966) يو حديث شريف كښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اعتكاف كوونكے ګناهونو نه بچ كيږي او د هغه د پاره ټولې نيكئ ليكلے كيږي څنګه چې د هغو [نيكو] د كوونكو د پاره وي." (ابنِ مَاجَه ج2 ص365 حديث1781)

## د اجتماعي اعتكاف مدني سپرلے

خوږو او محترمو اسلامي ورونـو! د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول

ته راتللو سره بیشمیره وران کاري خلق د نمونځونو او سُنَّتو پابند جوړ شوي دي، په دې باره کښې یو خوشبودار مَدَني سپرلے واورئ چنانچه د **مندسور** ښار (ایم. پي. اَلهِند) د مشهورې **بِیم باجه پارټۍ** مالِک د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د اِنفرادي کوشش په نتیجه کښې د 1426ھ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرئ عَشره کښې عاشقان رسول سره مُعتَکف شو. **تربِیَّتي حلقو** کښې ئې چې د ګناهونو تباه کارئ واوریدلې نو په زړه ئې ډیر اثر وشو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه د تیرو ګُناهونو نه توبه وکړه او د یو مُوټے ګیرې پریښودلو او عاشقان رسول سره د یوې میاشتې مَدَني قَافِله کښې د سُنَّتو ډک سفر کولو نِیَّت ئې اوکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! **د بِیم باجے د ګناهونو نه ډک حرام روزګار ئې هُم پریښودو.**

آئیں گی سُنّتیں، جائیں گی شامتیں | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتیں | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
مرضِ عصیاں سے چھٹکارا چاہو اگر | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
فضلِ رب سے ہدایت بھی جائے گی مل | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
نیکیوں کا تمھیں خوب جذبہ ملے | دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عطیاتو ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ستاسو خپل دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتیاؤ [80] نه پۀ زیاتو شعبو کښې د دِین خدمت کوي ❁ پۀ زرګونو مدرسې او جامعات جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې پۀ لکونو نارینه او زنانه طالبِ علماني دِیني تعلیم حاصلوي ❁ د الـمدینةُ العلمیه ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذریعه مسلمان اُمَّت ته اِسلامي لټریچر ورکولے شي ❁ د سوشل میډیا پۀ ذریعه کروړونو خلقو ته اِسلامي

معلومات ورکولے شي ❁ د مَدَني چینل اُردو، انګلش، بنګله، کِډز مَدَني چینل، د بزرګانو مَدَني چینل او د عربیٰ د ویب سائټ پۀ ذریعه د دِینِ اِسلام ❁ او پۀ ټوله دُنیا کښې د مسلمانانو د ښیګړې د پاره د جوړې کړے شوې شعبې ایف جي آر ایف (***FGRF***) پۀ ذریعه د دردیدلو مسلمانانو خدمت جاري دے.

**تاسو هم د دین د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده پۀ هر قِسمه جائز، دیني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې پۀ کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتې خرچې پرې پوره کړے شي.**

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

هُم دا رنګ چا ته د **الله** پاک په لاره کښې د مال لګولو ترغیب ورکول هُم ډیره لویه نیکي ده. اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه فرمائي: د هر دیني ضرورت د پاره چنده کول جائز او د سُنَّتو نه ثابت دي. [(1)] نور فرمائي: (دیني کارونو د پاره) چنده کول د صحیح حدیثونو نه ثابت دي، او د نیکۍ د کارونو د پاره چنده کول د نیکۍ طرف ته لار ښودلو په شان دي. په حدیث شریف کښې دي: څوک چې د خیر (یعني نیکۍ د) کار [طرف ته] لار ښودنه وکړي نو هغه ته هُم هُغه همره اجر ورکولے کیږي څومره چې د خیر (یعني نیکۍ) کوونکي ته [ورکولے شي] [(2)] **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق را کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ...فتاویٰ رضویه، جلد:16، صفحه:418۔

[2] ...فتاویٰ رضویه، جلد:16، صفحه:468۔

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک د ويرې حاصلولو، د نيکو نه د ډَک ژوند تيرولو، د الله پاک د عبادت او د نيکو اعمالو د جذبې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي. پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده.

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** اَلعِلمُ بِالتَّعَلُّمِ عِلم د زده کولو سره راځي. [1] ❀ د اوسني وخت پهٔ بدو کښې يوه بدي دا هم ده چې خلق د عِلمِ دِين نه لرې وځي ❀ د دِيني کتابونو د لوستلو شوق د نشت برابر دے ❀ مخکښينو خلقو به دِيني کتابونه ډير خوښول ❀ شپه او ورځ به يـې کتابونه لوستل ❀ ځکه به د هغوئي سره ديني معلومات هم ډير وو او ❀ ژوند به يـې هم پاک وو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❀ د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي کور کور ته د عِلمِ دِين رڼا رسوي ❀ د دعوتِ اِسلامي د باني شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خاصيت دا دے چې هغوئي پخپله هم د عِلمِ دِين سره ډير شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني کتابونو د لوستلو د شوق ترغيب ورکوي ❀ هغوئي د هر خالي پهٔ ورځ د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❀ مختصره شان رساله وي ❀ پهٔ لږ سعت کښې لوستلے کيږي. تاسو يـې هم لولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډيره فائده به مو کيږي ❀ ديني معلومات به مو زياتيږي ❀ د عِلمِ دِين د زده کولو ثواب به درته ميلاويږي ❀ د ديني کتاب د لوستلو سره دماغ هم ښه کيږي ❀ نظر تيزيږي ❀ حکمت نصيب کيږي ❀ سوچ پاکيږي او ❀ پهٔ ژوند کښې ښکلا

---

[1] ... بخاری، صفحه:90، حديث:67۔

راځي ❁ د جديد سائنسي تحقيقاتو مطابق د کتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت کيږي. راځئ د ترغيب د پاره درته يو مَدَني سپرلے بيانووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ الـقُرآن موبائل ايپلي کيشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د مَعرِفَةُ الـقُرآن جاري کړے دے. تاسو د دې ايپلي کيشن په ذريعه ❁ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ❁ په دې ايپلي کيشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کومو په مدد چې د خپلې خوښې مطابق موضوع او قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ. خصوصاً مبلغ اِسلامي ورونړه د دې آپشن نه ډير مدد اخستے شي ❁ په دې ايپلي کيشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم په مدد چې د آيتونو په لټولو کښې اساني پيدا کيږي ❁ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے. تاسو هم دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! بخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك شريف مياشت جاري ده اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې روزانه د تراويح نه پس مَدَني مذاکره فرمائي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې بخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هُم د دې دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د اِعتکاف

**10 مَدَني سپرلي** رسالې اعلان کولے شي. دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر **(Share)** کړي! ❁ مکتبة المدینه راوړي یو داسې پروډکټ کوم چې تاسو د هرې طبقې دوستانو او خپلوانو له په تحفه کښې ورکولے شئ: **ډیجیټل پین قرآن**. په کوم کښې چې موجود دي په څلورو ژبو کښې ترجمه، د 12 قاریانو صاحبانو په اوازونو کښې تِلاوت، د ماشومانو د پاره قیصې، په قرآنِ کریم کښې د موجودو ساه لرونکو، ځناورو، د اسمان ذِکر او ډیر څۀ. دا پین د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه په **9000 روپۍ** په بیعه واخلئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د قرآنِ پاک تلاوت کول سُنَّت عمل دے

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک: (1):** زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے. [2]

---

1 ...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2 ...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحه:347، حدیث:2004۔

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د قرآنِ کریم تلاوت کول سُنَّت عمل دے. زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ کثرت سره د قرآنِ کریم تلاوت کولو ❁ حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: یو څيز به هم خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تلاوت کولو نه نۀ منع کولو ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې پۀ نـمونځ کښې کله د ټول سُورۀ بقره او د سُورۀ آلِ عمران تلاوت کولو ❁ هره شپۀ به یـې د سُوْرَۀ سجده، سُورَۀ مُلک، سُوْرَۀ بنی اسرائیل، سُوْرَۀ زُمَر، سُوْرَۀ کافرون، سُوْرَۀ فَلق او سُوْرَۀ نَاس تلاوت کولو او بیا به اوده کیدلو.

**الله** پاک دې مونږ ته هم ښۀ ډیر د قرآنِ پاک د تلاوت کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا
شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

مانگو آ کر دُعا پاؤ گے مُدّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو
ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤگے راحتیں قافلے میں چلو

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې ځوک هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ځوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴾3﴿ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴾4﴿ د شپږ لا که دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لا کو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوک ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص ۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵